مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی

۲۰۲۶ / ۰۹ / ۲۳

# د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ۸۱ مه غونډه او د افغانستان غیابت

افغانستان د ۱۹۴۶ کال د نومبر په ۱۹مه، یعنې د ملګرو ملتونو له تأسیس څخه له یوه کال څخه په لږه موده کې، د دې
سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.
**د افغانستان او ملګرو ملتونو اووه اویا کلنو اړیکو** له ډېرو تاریخي لوړو ژورو او ګڼو سیاسي پېچلتیاوو څخه تېرې شوې دي.
ملګرو ملتونو په افغانستان کې د سیاسي بحرانونو او جګړو په بېلابېلو پړاوونو کې، د منځګړي او یا د پرېکړه لیکونو د صادرونکي په توګه، رول لوبولی دی.
**د شوروي اتحاد له یرغل (۱۹۷۹) وروسته**، عمومي اسامبلې د ګڼو پرېکړه لیکونو په صادرولو سره له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو ( په حقیقت کې د شوروي ځواکونو ) د سمدستي وتلو غوښتنه وکړه.
د بن له کنفرانس (۲۰۰۱) وروسته د ملګرو ملتونو امنیت شورا د یوه پرېکړه لیک له لارې، د نړیوالو امنیتي مرستندویه ځواکونو چې یې ته د امنیت د تأمین او د انتقالي حکومت د ملاتړ دنده وسپارله. دا هغه مهال و چې افغانستان د ایساف امریکا سروالي کوله تر اشغال لاندې راغی او ملګرو ملتونو د افغانستان په اړه د امریکا له سیاست څخه پیروي کوله.
په ۲۰۰۲ کال کې یوناما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي پرمختګ او بشري مرستو مستقیم مدیریت پر غاړه واخیست. نن ورځ مېرمن فاطمه، چې د بنګله دېش یوه تجربه کاره دیپلوماته ده، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازیتوب کوي. دا په داسې حال کې ده چې اوسنی **دوفکټو حکومت** په ملګرو ملتونو کې رسمي استازی نه لري. د دې نابرابرۍ او نامتوازنې اړیکې منطق په دې کې دی چې «د افغانستان دولت» وکولای شي خپل غړیتوب په ملګرو ملتونو کې وساتي.
په داسې حال کې چې د «افغانستان د حکومت» څوکۍ تشه ده، د «افغانستان د دولت» د څوکۍ سرپرستي د پخواني نظام یوه چارواکي ته سپارل شوې ده. دغه شخص د غونډو پر مهال د نظر څرګندولو حق لري، خو د رایې ورکولو له حق څخه بې برخه دی.
له هغه څه چې پورته ویل شو، داسې استنباط کېږي چې ملګري ملتونه په افغانستان کې رسمي حضور لري؛ خو د افغانستان دوفکټو حکومت په ملګرو ملتونو کې د رسمي څوکۍ له لرلو څخه محروم دی.
لاندې دلایل دغه دیپلوماتیک انزوا توجیه کوي :
ـ د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته، د افغانستان دوسیه ملګرو ملتونو ته وسپارل شوه. هغه دلیل چې هغه مهال د ټرمپ حکومت وړاندې کړ، دا و چې تروریزم یوه نړیواله مصیبت او بلا او ده. له هغې سره مبارزه د یوه یا دوو هېوادونو کار نه دی، بلکې باید په نړیواله کچه ورسره مبارزه وشي. له هغه وروسته یوناما د ملګرو ملتونو په استازیتوب دنده ترلاسه کړه چې په دوحه کې د څو غونډو د جوړولو له لارې په افغانستان کې سیاسي پرمختګ تر څارنې لاندې ونیسي.
سربېره پر دې، ملګرو ملتونو د بشري مرستو د رسولو له لارې د طالبانو دوفکټو حکومت له نړیوالې ټولنې سره په یو ډول اخلاقي اړیکه کې ساتلی دی.
د ملګرو ملتونو هغه هڅې چې طالبان د قانون اساسي په چوکاټ کې د حکومت د جوړښت غوښتنو منلو، د ښځو د کار د حقونو تأمین، او د نجونو لپاره د ثانوي او لوړو زده کړو دروازې د بیا پرانیستلو ته وهڅوي، تر اوسه بې پایلې پاتې شوې دي. په مقابل کې، ملګرو ملتونو د طالبانو د حکومت د استازي پر مخ خپلې دروازې تړلې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د طالبانو اداري له ۲۰۰۲ کال څخه تر اوسه پورې خپل غړيتوب فيس، چې په ټوليز ډول ۹۰۰۰ ډالره کېږي، نه دي ورکړی. د ملګرو ملتونو د منشور د ۱۹مي مادې له مخې، د هغه هېواد د رايي ورکولو حق چې خپل غړيتوب فيس نه ورکوي، ځنډول کېږي.
د پورته دوو مواردو په پام کې نيولو سره، يعني د ملګرو ملتونو غوښتنو ته نه پاملرنه او د غړيتوب فيس نه ورکول، د طالبانو له اداري څخه په ملګرو ملتونو کې د غړيتوب حق اخيستل شوی دی. په بل عبارت، افغانستان د نړيوالو ستونزو د حل او فصل په ستيچ کې خپل غږ نه لري.
په ملګرو ملتونو کې د افغانستان غيابت د افغانستان لپاره په لوړه بيه تمام شوی دی. پدې معنا چې :
ـ د هغو هېوادونو له خوا چې د طالبانو د دريځ ( په ۲۱مه پېړۍ کې د ژوند له معيارونو سره مخالفت ) له تګلارې ناراضي دي، افغانستان د تروريزم او اسلامي راديکاليزم د صادرولو د مرکز په توګه معرفي شوی.
ـ د افغانستان د جنوبي ګاونډي له خوا د ملګرو ملتونو له نړيوال منبر څخه ناوړه ګټه اخيستنه، د دې لپاره شوې چې پر افغانستان بېځايه تورونه ولګول شي او په پای کې پر افغانستان تکراري پوځي تېري ترسره شي.
ـ د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د پام وړ کمښت. دا په دې معنا ده چې افغان ولس د طالبانو د ګناه کفاره ورکوي، په داسې حال کې چې په دې ګناه کې هېڅ ونډه نه لري.
داسې ښکاري چې طالبان له يو شمېر هېوادونو سره د عملي تعامل په لرلو سره، ځانونه د رسمي نړيوالو اړيکو له پروتوکولونو څخه بېنيازه ګڼي.
کېدای شي د طالبانو لپاره د افغانستان ډيپلوماتيکه انزوا، د ينځو کلونو د حکومتولۍ په ترڅ کې، په يوه عادي امر بدله شوې وي. احتمال لري دا فکر چې طالبان کولای شي له نړۍ څخه په پرېکون سره د نورو کلونو لپاره هم په واک کې پاتې شي، طالبان يې د خپل حکومت د دوام په اړه هيله مند کړي وي. خو طالبان بايد پوه شي چې له نړۍ سره د ملګرو ملتونو له لارې د رسمي اړيکو د پرېکون مستقيم زيان تر هر چا زيات **افغان ولس** ګالي، نه هغه واکمني چې اوس پر هېواد کې حاکمه ده.
تر هغه چې افغانستان له ډيپلوماتيکي انزوا سره مخ وي، د پاکستان تېري به د افغانستان له خوا د حق غوښتنې او دادخواهۍ له نشتوالي سره، په يقيني توګه دوام ومومي او فقر او بېکاري به لا پسې پراخه شي.
په پايله کې، هغه لاره چې طالبانو غوره کړې ده، نه يوازې هغوی له نړۍ سره په تصادم کې بلکې له خپل ولس سره يې هم په مقابله کې دروي. « پای » ۲۰۲۶/۰۹/۲۳



آرشيف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ